# د نوي زیږېدلي ماشوم د اورېدنې معاینه



معلومات د کورنیو لپاره

د Vermont د اورېدنې د وختي کشف او مداخلې (VTEHDI) پروګرام

Pashto

## د Vermont د اورېدنې د وختي کشف او مداخلې (VTEHDI) پروګرام

VTEHDI پروګرام Vermont په کې د ټولو زیږیدلو ماشومانو لپاره د اوریدنې د معاینې پایلې تعقیبوي څو ډاډمن شي چې ټول ماشومان د اورېدلو پر وخت او مناسبې معاینې او تعقیب ته لاسرسی لري.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره

**healthvermont.gov/hearing**

ته مراجعه وکړئ.

دغه بروشر:

- زموږ په ویبپاڼه کې په فرانسوي، عربي، سواحیلې، برمی، کیروندي، نیپالي، سومالي او هسپانوي ژبو ژباړل شوی او شته دی
- د کورنی له شریکانو سره په ګډه اپډېټ او ډیزاین شو (2022)

VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH

د مور او ماشون د روغتیا د Vermont د اورېدنې وختي تشخیص او مداخلې برخه 1-800-537-0076 یا 1-802-651-1872
VTEHDI@vermont.gov



## ولې به زما ماشوم د ماشومتوب په لومړیو کې د اوریدنې بل ټست ترسره کولو ته اړ وي؟

د زیږون په وخت کې د ماشومتوب د اورېدو ځواک له لاسه ورکولو ټول ډولونه نه پیژندل کیږي. د اورېدو ځواک له لاسه ورکول هر وخت د ډیری دلیلونو له مخې وده کولی شي.

هغه دلیلونه چې له مخې یې باید ستاسو د ماشوم اورېدو ځواک وکتل شي:

- په ماشومتوب کې د اورېدو ځواک د دایمي له لاسه ورکولو په برخه کې د کورنۍ تاریخچه
- په سر، مخ، غاړې یا غوږونو کې د پام وړ ټوپیرونه
- ځانګړي درمل چې د زیږون په وخت کې تر 5 ورځو څخه زیات وخت لپاره ورکړل شوي وي
- د داسې سنډروم تشخیص چې د اورېدو ممکنه له لاسه ورکول پکې شامل وي
- د نوي زیږون د جدي پاملرنې په واحد (NICU) کې تر 5 ورځو زیات وخت لپاره داخله
- د کورنۍ یا پالونکي اندېښنه
- په وینا او/یا د ژبې په وده کې ځنډ

VTEHDI به تاسو او ستاسو د ماشوم پاملرنې چمتو کوونکي ته یو لیک واستوي، که د ډېرو تکراري ټسټ ترسره کولو سپارښتنه وشي.

د پورته لیست په اړه د نورو معلوماتو لپاره او دا چې څه وخت او په کوم ځای کې د اوریدنې لیدژمنه ترلاسه کړئ، دغه **healthvermont.gov/hearing** لینک ته مراجعه وکړئ..

## ولي باید ټول نوي زیږیدلي ماشومان د زیږون پر مهال د اوریدنې معاینه وکړي؟

- اوریدل د لیدو وړ نه دي. کورنی فکر کوي چې که یې ماشوم اوریدلی نه شي، نو دوی به ویلی شي، خو دغه چاره تل داسې نه وي.
- په هرو زرو ماشومانو کې له 1-3 پورې د اوریدو ځواک د کمښت له یوې درجې سره پیدا کیږي.
- د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدلو معاینه د ژوند په لومړیو ورځو کې د اوریدلو ځواک احتمالي کمښت کشفولی شي.
- د ژوند لومړی کال د وینا او ژبې د ودې لپاره مهم دی. کله چې غږونه اوریدل کیدی نه شي، ممکن ځنډ شته وي.
- یوازې هغه نیمایي ماشومان چې د اوریدو ځواک یې له لاسه ورکړی وي، د اوریدو د ستونزو یا د خطر نورو عواملو په برخه کې د کورنی پیژندل شوې تاریخچه لري.

## څه وخت به مې ماشوم د اوریدنې معاینه ولري؟

د اوریدنې معاینه باید تر روغتون پریښودو مخکې درته برابره شي. ډیری روغتونونه تر 12-24 ساعتو وروسته د ماشوم اوریدنه معاینه کوي. (یعني ګوري یې.)

که تاسو په کور کې زیږون وکړئ، نو قابله به مو ماشوم د ژوند په لومړیو اونیو کې معاینه کړي.



## څوک به زما د ماشوم اوریدنه معاینه کړي؟

د اوریدنې معاینه د آډیولوژیست، نرس، روزل شوي تخنیک پوه، تنفسي معالج یا قابلې لخوا ترسره کیدی شي.

## څنګه به مې د ماشوم اوریدنه معاینه شي؟

د اوریدنې معاینه خوندي، چټکه او بې درده ده. ډیری ماشومان ټول وخت خوب کوي، ځکه چې د ماشوم ځواب ته اړتیا نشته.

یو کوچنی پروب یا غوږ بند ستاسو د ماشوم په غوږ کې اچول کیږي او نرم غږونه غږول کیږي. تجهیزات ځوابونه اندازه کوي او پایلې به هغه مهال د لاسرسي وړ وي چې معاینه بشپړه شي.

## د نوي زیږیدلي ماشوم د اوریدنې د معاینې احتمالي پایلې څه دي؟

**تیرېدل (PASS)**معنا یې دا ده چې اوسمهال بل اقدام ته اړتیا نشته.

**مراجعه کول (REFER)** معنا یې دا ده چې ستاسو ماشوم د اوریدنې معاینه تیره نه کړه. دغه د اوریدو ځواک له لاسه ورکول نه تاییدوي، خو تعقیبي ټست ته اړتیا ده.

**نیمګړی/ هڅه یې شوې** معنا یې دا ده چې باید معاینه وختي لا دربدلي وای او بلې ته اړتیا ده. دا کیدای شي د ماشوم د فعالیت د کچې، په چاپیریال کې شور یا د تجهیزاتو ستونزې له امله وي.

ستاسو د ماشوم د اوریدنې د معاینې پایلې به له تاسو، ستاسو د ماشوم د روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي او له VTEHDI پروګرام سره شریکې شي.

## که زما ماشوم د اوریدنې معاینه نه وي ترلاسه کړې یا بلې ته اړتیا ولري، نو بیا به څه کیږي؟

VTEHDI پروګرام به تاسو او/یا ستاسو د ماشوم ډاکټر ته زنګ ووهي څو درسره د غیر بستري لیدنې په تنظیمولو کې مرسته وکړي. تاسو همداراز له VTEHDI سره اړیکه نیولی شئ (د دغه بروشر په شا کې د اړیکو معلومات وګورئ).

د غیر بستري لیدنې د ټولنې په روغتون، د آډیولوژۍ په دفتر یا د ماشومانو د روغتیایي پاملرنې د چمتو کوونکي په دفتر کې ترسره کیدی شي.



### موږ 1-3-6 طریقه کاروو*

1 - د ټولو نویو زیږیدلو ماشومانو اوریدنه تر روغتون یا د عمر تر1 **میاشتې** مخکې معاینه کړئ.

3 - هغه ماشومان چې بل ټست ته اړتیا لري، د عمر تر 3 **میاشتنی مخکې** به یو تشخیص ولري.

6 - هغه ماشومان چې د اوریدو ځواک له لاسه ورکولو کومه درجه یې تشخیص شوي وي، د وختي مداخلې ځانګړو خدمتونو ته به د عمر تر 6 **میاشتنی مخکې راجع شي یا به پکې** شامل شي.

** د ماشومانو د اوریدنې د ګډ ملي کمیسیون (JCIH) د لارښوونو پر اساس.*

Pashto